د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه

**اونیزه** د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه


د ربیع الاخر ۱۱ مه، ۱٤٤۷ هـ.ق کال
تله/میزان ۱۲ مه، ۱۴۰۴ هـ.ش کال
لومړی کال، پرله پسې ۳۳مه ګڼه


## په دې ګڼه کې لولئ:


- غزني: غزني ښاروالۍ له لوري د درېیم او څلورم پلان پارکونو د رغونې چارې روانې دي
- کندهار: کندهار ښاروالۍ هغه وسایل چې د ښار ښکلا ته یې زیان اړولی وو لیرې کړه
- کندهار: کندهار ښاروالۍ د ښار په درېیمه ناحیه کې شین غزي سیمې ته څېرمه د یوې کوڅې رغنیزې چارې پیل کړې دي
- تخار: برنامه آموزشی مراسلات اداری و سیستم دوسیه بندی برای کارکنان شاروالی تالقان برگزار گردید
- کندهار: کندهار ښاروالۍ کې د مهمو موضوعاتو د تصویب او تائید لپاره اداري نوبتي غونډه ترسره شوه
- هرات: د هرات ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې اړوند باغ مراد ۱۱ کانال د جوړولو پروژې چارې روانې دي
- بلخ: هوایي ډګر سړک جوړولو چارې تر نوي ښار څلورلارې پورې په چټکۍ روانې دي
- بلخ: کار ساخت یک سرک کارته صلح پیشرفت خوبی کاری دارد
- کونړ: د ښاروالۍ خدماتي پرسونل ته ځانګړی شوی لباس په واک کې ورکړل شو
- فاریاب: شاروال میمنه از روند کاری پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر بازدید کرد
- لوګر: پل علم ښاروالۍ لخوا د نږدې دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پراختیایي پروژې چارې پیل شوې
- لغمان: په لومړۍ او دویمه ناحیه کې د سړکونو د جوړېدو چارې په چټکۍ روانې دي


## پروژه کانکریت‌ریزی جاده قادرآباد هرات به هزینه حدود سه میلیون افغانی تکمیل و به بهره برداری رسید




## غزني ښاروالۍ د ۱۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د کوڅو او سړک د رغونې چارې پیل کړې




## اتمه ناحیه کې د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې






# رغونه اونیزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

### ګردیز ښاروالۍ د ښار پاکوالي په چارو کې څو برابره ګړندیتوب راوستی


پکتیا ۱

ګردیز ښاروالۍ د خپلو تنظیفاتي کارکوونکو په مرسته د ښار په بېلابېلو برخو کې د کثافاتو راټولولو چارې د ورځې او شپې روانې ساتلې.

### غزني ښاروالۍ له لوري د درېیم او څلورم پلان پارکونو د رغونې چارې روانې دي


غزني ۲

د غزني ښاروالۍ ریاست د ښار د ښکلا، چاپېریال زرغونتیا او د ښاریانو د تفریح لپاره د درېیم او څلورم پلان اړوند د رهایشي بلاکونو مخې ته د دریو تفریحي پارکونو د جوړولو چارې پیل کړې دي.

د دغو پارکونو د رغونې په بهیر کې د کټارو نصبول د کربونو جوړول د ناستې چوکیو ایښودل سایوانونو جوړول د اوبو لپاره د حوضونو جوړول او د شنو ساحو جوړښت شامل دي.

**کار پروژه احداث کانال و کانکریت ریزی کوچه‌های رباط کابلی‌ها مربوط ناحیه چهاردهم شاروالی هرات به طول ۲۵۰ متر و به هزینه حدود یک و نیم میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات جریان دارد.**


هرات ۳

**مدیریت عمومی تنظیفات شاروالی زرنج همه‌روزه به منظور حفظ محیط زیست با عزم و مسئولیت‌پذیری کامل به عرضه خدمات پاک‌کاری در سطح شهر ادامه می‌دهد و زباله‌های سطح گذرها، بازارها و نقاط پر رفت وآمد شهری جمع‌آوری و انتقال به جای معین آن انتقال می دهد.**


هرات ۴

### کندهار ښاروالۍ هغه وسایل چې د ښار ښکلا ته یې زیان اړولی وو لیري کړه


کندهار ۵

د کندهار ښاروالۍ اړوند د مارکېټونو تنظیم امریت، د تنظیف او سرسبزۍ عمومي مدیریتونو په ګډه همکارۍ هغه وسایل چې د احمدشاهي جادې پر مسیر د عامه پلې لارو پر سر ایښودل شوي وو او د ښار سرسبزۍ او ښکلا ته یې زیان اړولی وو، د مسؤولینو له لوري لیري شوو.

درنو ښاریانو!

کندهار ښاروالۍ د ښاري بې نظمۍ د لهمنځه وړلو لپاره خپلې نظارتي هڅې په دوامداره توګه ترسره کوي، ترڅو ښاري چاپیریال لا ښکلی، منظم او د ژوند لپاره ارام وي. هیله ده ټول ښاریان د ښاري نظم په ټینګښت کې خپله همکاري ترسره کړي.

**در جریان کار پروژه اسفالت سرک شهرک صنعتی، روند قیرریزی سرک فاز سوم شهرک صنعتی آغاز شد و به گفته مفتی جمال الدین مسرور شاروال گذره، کار به‌صورت منظم پیش می‌رود و این پروژه طبق برنامه و با کیفیت لازم تکمیل خواهد شد.**


هرات ۶

**جلسه ماهوار هماهنگی وکلای گذر نواحی سه گانه شهر ایبک با اشتراک وکلای گذر توسط شاروالی شهر ایبک راه اندازی گردید و در آن پیرامون حفاظت و نگهداری از ساحات سبز، پارک ها و درخت ها، نظافت، پاکی و مراعات حفظه الصحه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.**



سمنګان ۷

### ترینکوټ ښاروال د ۱۴۰۴ هـ ش مالي کال لپاره د ښاري پراختیا، خدمتونو او رغنیزو پروژو د تطبیق په اړه ژمنه وکړه

**روزګان: ترینکوټ ښاروال: د پلان سره سم به د رغنیزو پروژو په تطبیق کی پوره هڅه وکړم**

روزګان ۸

د روزګان ولایت ترینکوټ ښاروال په یوې ځانګړې مطبوعاتي مرکه کې وویل، هڅه به وکړي چې د ښاروالۍ اړوند پروژې د پلان له مخې پر وخت او په شفاف ډول تطبیق کړي. ښار ته به روښنايي، د ویالو اساسي رغونه، عامه تشنابونه، انتظار ګاه، د بریښنايي پایو او ګلدانونو ترمیم، رنګول او نورې ښاري اسانتیاوې رامنځته شي.

ښاروال زیاته کړه چې د ښاري اصولو د ترویج لپاره به عامه پوهاوی، د نظم ټینګښت، سرسبزۍ، او د ښاریانو همکارۍ ته پراختیا ورکړي.

نوموړي ټینګار وکړ چې ټولې پروژې به د دقیق پلان، ډیزاین او ارزونې له مخې اعلان ته وسپارل شي او له پلي کېدو سره به د ښار ښکلا او د خلکو ستونزې حل شي.

**پاک ښار پاک ژوند**

**کوڅې، واټونه، پارکونه او ښار زموږ ګډ کور دی، راځئ کثافات یوازې په ټاکل شویو ځایونو کې واچوو!**

**د ښار ښکلا زموږ له همکارۍ پیلیږي، ښاروالۍ هڅه کوي، خو ساتنه یې زموږ مسؤلیت دی.**


کندهار ۹




# رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه


## کندهار ښـــاروالۍ د ښـــار په دریمه ناحیه کې شین غزي سیمې ته خیرمه د یوې کوڅې رغنیزې چارې پیل کړې دي



کندهار ۱۰

کندهار ښاروالۍ د خپلو پراختیايي فعالیتونو په لړ کې داخل د ښار په دریمه ناحیه، پنځم گذر کې شین غزي سیمې ته خیرمه د یوې کوڅې رغنیزې چارې پیل کړې دي.

دا کوڅه چې تقریبا ۸۰۰ متره اوږدوالی او ٦ متره پلنوالی لري په څنګ کې یې محافظتي دیوال او دوه پلونه هم په اساسي او معیاري ډول جوړېږي.

ددې پروژې چارې یوه نیمه میاشت مخکې پیل شوې دي او پاتې کارونه به یې د یوې میاشتې په موده کې پای ته ورسېږي.

## لښکرگاه ښاروالۍ زاړه وسایل لیلام شوه




هلمند ۱۱

د هلمند ولایت لښکرگاه ښاروالۍ د خدمتونو مدیریت له لوري، د ښـــاروال په هدایت، ٦١ قلمـــه زاړه او غیر قابل استفاده توکو او داغمه جاتو د ځانګړې ناستې په ترځ کې لیلام شوي.

یاد لیلام د ولایت مقام لخوا د ټاکل شوي هیئت، ښاروالۍ مدیرانو او ګډونوالو په حضور کې ترسره شو. تر لاسه شوې پیسې به د ښاروالۍ عوایدو ته جمع شي.

چارواکي وایي، دغه توکي له پخوا راټول شـــوي وو او د اســـتفادې وړ نه وو، نو له همدې امله یې لیلام ته اړتیا پیښه شوه.

به منظور مدیریت بهتر آب های سطحی و جلوگیری از آب خیزی ها، پاک کاری و لوش کشی کانال دشت شور واقع در ساحات نواحی نهم و هشتم شهر مزارشریف توسط آمریت تنظیف و سرسبزی شاروالی مزارشریف آغاز گردید.

مزار شریف ۱۲

به اســـاس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شـــاروال مزارشریـــف قیچی کاری دیوار بیدها و منظم ســـازی سرسبزی گلدان های شهر مزارشریف توسط آمریت تنظیف و سرســـبزی شـــاروالی مزارشریف به سرعت جریان دارد تا ساحات سبز افزایش یافته و گلدان های وسطی سرک بیشتر تزئین گردد.



مزارشریف ۱۳

## برنامه آموزشـــی مراسلات اداری و سیســـتم دوسیه بندی برای کارکنان شاروالی تالقان برگزار گردید



تخار ۱۴

برنامه آموزشـــی ســـه‌روزه تحت عنوان "مراسلات اداری و سیستم دوســـیه‌بندی" برای ۸۵ تن از کارکنان شاروالی تالقان توسط اصلاحات اداری و خدمات ملکی ولایت تخار با هماهنگی شـــاروالی تالقان در تالار کنفرانس‌های این اداره برگزار گردید.

رحمت الله دانشـــیار به نمایندگی از شـــاروالی تالقان، اشتراک کننـــدگان را خوش آمدید گفـــت و در رابطه به اهمیت علم مدیریت و نقش آن در بهبود عملکرد مدیریت ها صحبت نمود و بر ارزش هـــای چون صداقت، تعهد و جدیت تأکید نمود.

هـــدف از تدویر ایـــن برنامه ارتقاء ظرفیـــت کارمندان شـــاروالی تالقان در زمینه‌های مدیریتی و مســـلکی و بهبود روند اداری در مطابقت بـــا معیارهای اصلاحات اداری عنوان شده است.

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی قلعه نو ولایت بادغیس به منظور پاگیزگی شهر، زباله های ذخیره شده در ناحیه اول را جمع آوری و به دور از شهر انتقال دادند.

بادغیس ۱۵

## کندهار ښـــاروالۍ کې د مهمو موضوعاتو د تصویب او تائید لپاره اداري نوبتي غونډه ترسره شوه




کندهار ۱۶

کندهار ښاروالۍ کې د اداري نوبتي غونډې پر مهال د ښـــاروالۍ د پلانونو، پروژو او قوانینو د عملي کولو په اړه مهمې پرېکړې وشـــوې. ښاروال ګډونوالو ته د اخلاص، پـــاک نیت او د شریعت په چوکاټ کې د خدمت ټینګار وکړ. په غونډه کې د اعمار قانون، د استملاک پروژې، د ښـــاریانو وړاندیزونو راټولول او د پـــروژو څارنه مطرح او مسؤلینو ته ځانګړې دندې وسپارل شوې. همدارنګه د غرګي سرک رهایشي ســـاحه د تجارتي ساحې بدلولو وړاندیز هم تصویب شو.

## یـــو باب مســـجد جوړولو کارونه په چټکـــۍ سره مخته روان دي



کندهار ۱۷

کندهار ښاروالۍ د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د هدایت له مخې د احمد شاهي جادې په پارک کې د یو باب مسجد جوړولو چارې پیل کړې دي.

نوموړی مسجد چې د اوداسه ځایونه او نور سهولتونه لري په دوه منزله کې به په اساسي او معیاري ډول ورغول شي. دیاد مسجد پر جوړولو تقریباً ۷ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

بـــه منظور تقویت شـــبکه برقرســـانی و بهبود توزیع انرژی برای رفع نیازمندی های اساســـی شهری، تیم انجینری شـــاروالی محمودراقی از جریـــان کار پروژه نصب دو پایه ترانسفارمر استیشن مستقل نظارت نمود و در جریـــان نظـــارت، کیفیـــت کارهـــا، تجهیزات و مطابقت مراحل اجرایی با پلان بررسی گردید.



کاپیسا ۱۸

## د هرات ښاروالۍ اتمې ناحیې اړوند پل خیمه دوزان گذر کې د سرپوښه کانال د جوړولو پروژه بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه



هرات ۱۹

د هرات ښاروال د اتمې ناحیې اړوند د پل خیمه دوزان جاده کې د سرتړلي کانال د جوړولو پروژ د ۶۰۰ متر په اوږدوالي د دغې اداري پراختیایي بودجې څخه د شاوخوا ۲،۵ میلیون افغانیو په ارزښت بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغې پروژې د گټې اخیستنې په مراسمو کې د هرات ښاروالۍ اداري د تخنیکي او مسلکي رئیس د اتمې ناحیې امریت مسؤولنو، د سیمې مخورو، مشرانو او د سیمې اوسیدونکو گډون کړی وه.

د قراردادي شرکت مسؤولینو ډاډ ورکوي، چې دغه پروژه په معیاري او په لوړ کیفیت د قرارداد د موادو سره سم عملي شوې ده.

په ورته مهال کې د سیمې اوسیدونکي د دغې پروژې د کار د تکمیلو له امله خوښي څرگندوي.

## د هرات ښاروالۍ د لومړۍ ناحیې اړوند باغ مراد ۱۱ کانال د جوړولو پروژې چارې رواني دي



هرات ۲۰

دغه پروژه د هرات ښاروالۍ د روان کال د پراختیایي پروژو څخه ده، چې د ابن سینا ٦ په گډون ۴۱۵ متر په اوږدوالي کانال او ۲۲۰ متر په اوږدوالي د جادې کانکریټ کول شامل دي.

یاده پروژه د هرات ښاروالۍ پراختیایي بودجې څخه د شاوخوا ۳ میلیون و ۲۰۰ زره افغانۍ په ارزښت د هرات ښاروالۍ په لومړۍ ناحیه کې پلې کېږي.

## درېیم او دوهم گذر د یالو پاکولو پراخ تنظیفي فعالیتونه ترسره شول



کندهار ۲۱

د سپین بولدک ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت زیارکښو کارکوونکو د ښار په بېلابېلو برخو کې، په ځانگړې توگه د درېیم او دوهم گذر اړوند سیمو کې، د یالو پاکولو، مرکزي عمومي سړک جارو کولو او د کثافاتو ټولولو پراخ فعالیتونه ترسره کړل.

## پروژه کانکریت‌ریزی جاده قادرآباد هرات به هزینه حدود سه میلیون افغانی تکمیل و به بهره‌برداری رسید



هرات ۲۲

کار پروژه کانکریت‌ریزی جاده قادرآباد مربوط ناحیه یازدهم شاروالی هرات به طول ۵۰۰ متر و عرض ٦ متر به هزینه نزدیک به ۲ میلیون و ۷۰۰ هزار افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات توسط شرکت خصوصی تکمیل و با حضور مسؤولین شاروالی و شهروان به بهره برداری سپرده شد.

درهمین حال، باشندگان محل از تکمیل پروژه ابراز خرسندی کرده و می‌گویند که با بهره‌برداری از این جاده، رفت‌وآمد در این مسیر آسان‌تر شده و مشکلات گذشته رفع گردیده است.

از سوی دیگر، مسئوول شرکت قراردادی از کیفیت کار آن اطمینان داد وافزاید که این پروژه مطابق معیارهای تخنیکی به گونه معیاری و استندرد تکمیل شده است.

کارکنان و ماشین‌آلات تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر چاریکار، جویچه‌های مسدود شده ناحیه دوم شهر را پاک‌کاری کردند و این جویچه‌ها که برای آبیاری زمین‌های زراعتی مورد استفاده قرار می‌گیرند، به دلیل زباله‌های سایر نقاط شهر، مسدود شده بود.

کاپیسا ۲۳

## هوایي ډگر سړک جوړولو چارې تر نوي ښار ځلورلارې پورې په چټکۍ رواني دي



بلخ ۲۴

د مزارشریف ښار د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډگر سړک د جوړولو چارې تر نوي ښار ځلورلارې پورې د ۲،۵ کیلومتره په اوږدوالي او ۱۴ مترو په سور سره د ٦۴ میلیونه افغانیو په لگښت د ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه په چټکۍ او ښه کاري کیفیت سره رواني دي.

نوموړې پروژه کې: د لښتیو جوړول، د روښانتیا ستنې لگول، د سړک کرښې اچول، منځنۍ گلدان جوړول، سمسورتیا او د یوه معیاري سړک نور جزئیات پکې شامل دي، چې د کانالونو جوړولو چارې بشپړې او د سړک کېندنې، خاورو ایستلو، بستر جوړول چارې یې په ښه کیفیت او چټکۍ سره رواني دي.

د سهاک هبله قراردادي شرکت مسؤول ډاډ ورکړ چې د یادې پروژې چارې به په معیاري ډول، د قرارداد شرطپاڼې سره سم او په ټاکلي وخت بشپړې کړي.

## زرغون کلي کې د دړې بابه عامه تشنابونو د جوړېدو چارې پیل شوې



هلمند ۲۵

د هلمند ولایت نادعلي ولسوالۍ اړوند زرغون کلي بازار کې د نادعلي ښاروال په هدایت د دړې بابه عامه تشنابونو د جوړېدو چارې پیل شوې.

د یادو تشنابونو جوړېدل به د سیمې خلکو ته د حفظ الصحې او اسانتیاوو په برخه کې لازم سهولتونه برابر کړي. د دې پروژې ټول لگښت د نادعلي ښاروالۍ له پراختیایي بودجې څخه تمویلېږي.

## کار ساخت یک سرک کارته صلح پیشرفت خوبی کاری دارد


بلخ ۲۶

کار ساخت سرک کارته صلح پروژه M عقب بلند منزل ها در ناحیه هفتم شهر مزارشریف به طول ۵۰۰ متر و عرض ۸ متر از بودجه انکشافی شاروالی مزارشریف به هزینه ۵,۵ میلیون افغانی پیشرفت خوبی کاری دارد.

پروژه مذکور شامل کندن کاری، خاک برداری، ساخت کانال های آبرو، بستر سازی، کانکریت ریزی و سایر جزئیات یک سرک معیاری می‌باشد که کار آن در مدت ۸۰ روز کاری توسط شرکت قراردادی تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.

## د ښاروالۍ خدماتي پرسونل ته ځانګړې شوې لباس په واک کې ورکړل شو


کونړ ۲۷

د کونړ ولایت اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت خدماتي پرسونل ته ځانګړې شوې لباس توزیع شو، له دې وروسته به د ښاروالۍ خدماتي کارکوونکي په ورځنیو چارو کې د همدې لباس څخه استفاده کوي او خپلو درنو ښاریانو په چوپړ کې به نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

**کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی پلخمری جویچه های کنار سرک قومندانی امنیه ولایت بغلان که پر از کثافات و فاضلاب گردیده بود و انبار فاضلاب و کثافات شهر را از ساحات مورد نظر در اسرع وقت پاک سازی نمودند.**


بغلان ۲۸

## شاروال میمنه از روند کاری پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر بازدید کرد


فاریاب ۲۹

الحاج مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال شهر میمنه با مدیر عمومی خدمات تخنیکی و مسلکی و مدیر انجنیری و زیربنا ها از جریان کار شماری از پروژه‌های انکشافی و زیربنایی در سطح شهر میمنه بازدید و نظارت به عمل آورد.

در این بازدید از پروژه‌هایی تعمیر تجارتی و اداری مدیریت ناحیه پنجم، مجتمع تجارتی و رهایشی پریدگاه، سرک شفاخانه حوزوی، فروشگاه و تشناب های عامه داخل پارک مرکزی و سرک باقیمانده شفاخانه حوزوی دیدن به عمل آمد.

شاروال میمنه ضمن بررسی چگونگی پیشرفت این پروژه‌ها بر تسریع روند تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه تأکید نمود و به شهروندان اطمینان داد که شاروالی میمنه با برنامه‌ریزی منظم و اصولی همه‌روزه در تلاش است تا زمینه زندگی بهتر و محیط شهری منظم‌تر را برای باشندگان فراهم سازد.

**جلسه کمیته نظم شهری کمیسیون نظم و توسعه شهری فاریاب به ریاست الحاج مفتی گل احمد مبشر، شاروال میمنه با حضور اعضای کمیته در دفتر مقام شاروالی میمنه تدویر یافت و در آن بر تسریع فعالیت های این کمیته به منظور ایجاد و برقراری نظم و انسجام شهری تأکید صورت گرفت.**



فاریاب ۳۰

## پل علم ښاروالۍ لخوا د نږدې دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د یوې پراختیایي پروژې چارې پیل شوې


لوګر ۳۱

د پل علم ښاروالۍ له لوري د پل علم ښار اړوند د پایخېلو په سیمه کې د ۷۸۰ مترو په اوږدوالي سره د سړک د څنګ لښتیو او ۷ پلچکونو د جوړولو چارې د پل علم ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه پیل شوې.

د پل علم ښاروالۍ د تخنیکي او مسلکي چارو لوی مدیریت د معلوماتو پر بنسټ، د یادې پروژې ټولیز ارزښت (۱۷۳۳۸۲۸) افغانۍ دی چې کار چارې به یې د دوه میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.


## غزني ښاروالۍ د ۱۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د کوڅو او سړک د رغونې چارې پیل کړې


غزني ۳۲

د غزني ښاروالۍ ریاست د ملګرو ملتونو د دفتر په مالي مرسته د غزني ښار په لومړۍ او دویمه ناحیه کې د ۱۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د دوو مهمو پروژو چارې رسماً پیل شوې.

په لومړۍ ناحیه کې د خواجه علي صاحب اړوند څلور کوڅې د کانکرېټ او رغونې لپاره ټاکل شوې دي.

**در ۱۲٤پایه داخل بلوار امام بخاری (رح) از چهار طرف گذره الی درب شهرک صنعتی، چراغ‌های تزئینی به هزینه حدود نیم میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی گذره به هدف افزایش زیبایی شهر نصب گردید.**


هرات ۳۳

## اتمه ناحیه کې د ۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د یوه سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې



ننگرهار ۳۴

د جلال‌اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS موسسې په تخنیکي همکارۍ د اتمې ناحیې په ۳۵ گذر کې د ۵۹۰ متره په اوږدوالي او د ۵ متره په لنډوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې.

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس، د پروژې د کانکریټ له کارونو لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۱۰۰ تنه کاریگر کار کوي. یاده پروژه به په نږدې راتلونکې کې بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## مهترلام ښاروالۍ په دریمه ناحیه کې د یو تفریحي پارک مزایده ترسره شوه



لغمان ۳۵

د لغمان ولایت مهترلام ښار په دریمه ناحیه کې د ښاروالۍ اړوند د ډاکټر احمد ظاهر د پارک د یوې برخې ځمکه چې د ځوانانو او ماشومانو د تفریح لپاره برابره شوې، د مهترلام ښاروالۍ د تعین شوې کمېټې په حضور کې مزایده ترسره شوه.

یاده مزایده چې د څلورو داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه، په پایله کې یې عبدالرحمن د میاشتې په ۶۵۵۰ افغانۍ لوړ نرخ ورکولو سره گټونکی وپېژندل شو.

د یادونې وړ ده چې د عوایدو د زیاتوالي په موخه هر کال د ښاروالۍ ملکیتونه د ازاد رقابت له لارې اعلان ته سپارل کېږي او بیا پرې مزایده او داوطلبي کېږي.

## په لومړۍ او دویمه ناحیه کې د سړکونو د جوړېدو چارې په چټکۍ روانې دي



لغمان ۳۶

د لغمان ولایت مهترلام ښار په لومړۍ او دویمه ناحیو کې د ښاروالۍ له داخلي بودجې څخه د دوو پراختیایي پروژو چارې جریان لري، ښاروال چې د تخنیکي او مسلکي امر او انجنیرانو یې ملتیا کوله د یادو پروژو له کارونو څخه یې لیدنه وکړه.

یادې پروژې چې د حاجیانو کلي سړک رغول او د دارالمعلمین د مسیر سړک جوړونه ده، د ښاروال له لوري د ښاروالۍ تخنیکي ټیم او انجنیرانو په حضور کې له نږدې وکتل شوې.

یادو پروژو چارې تقریباً ۸۵ سلنه بشپړ شوې او پاتې کارونه یې د پلان له مخې جریان لري، چې ډېر ژر به بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د کابل قره‌باغ ښاروال د ولسوالۍ له سپین‌ږیرو، مخورو مشرانو او د بازار له یو شمېر دوکاندارانو سره ځانگړې لیدنې وکړه. په یاده ناسته کې گډونوالو خپلې غوښتنې او ستونزې د ښاروالۍ له مشرتابه سره شریکې کړې.
ښاروال د گډونوالو غوښتنو دغور نه بعد هغوی ته ډاډ ورکړ چې د شریعت او د ښاروالۍ د نافذه قوانینو په رڼا کې به ورسره پوره همکاري کېږي.




کابل/قره باغ ۳۷

مسئوولین تخنیکی شاروالی شهر زرنج در سرک شصت متره این شهر در راستای بهبود خدمات شهری، تسهیل رفتو آمد وسایط و رفع مشکلات مردم، چراغ های این سرک را با موفقیت ترمیم کردند.



نیمروز ۳۸

## کندهار ښار په ۷ ناحیه کې اتحاد جامعې ته څېرمه د ۱۱۱۵ متره په اوږدوالي سړک جوړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شو




کندهار ۳۹

کندهار ښاروالۍ د خپلو پراختیایي فعالیتونو په لړ کې، د ښار د اوومې ناحیې اړوند په اووم او اتم گذر کې د یوه مهم فرعي سړک د اساسي رغولو چارې په دوه فازه کې پیل کړې وې چې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

یاد سړک د هرات عمومي سړک او د پنجوايي ولسوالۍ د عمومي سړک سره وصل کوي، ټولټال ۱۱۱۵ متره اوږدوالی او ۸ متره پلنوالی لري چې په اساسي ډول ورغول شو.

نوموړي فرعي سړک په جوړېدو سره د سیمې خلگو زیاته خوښي ښودله او د کندهار ښاروالۍ څخه یې ځانگړې مننه وکړه.

## اتمه ناحیه کې د ۶،۹ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې



ننگرهار ۴۰

د جلال‌اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS موسسې په تخنیکي همکارۍ د اتمې ناحیې په ۴۳ گذر کې د ۷۳۲ متره په اوږدوالي او د ۵،۵ متره په لنډوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې پیل شوې.

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس، د ناحیې انجنیر او ورسره مل پلاوي د پروژې د کانکریټ له کارونو لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د سیمې ۸۰ تنه کاریگر کار کوي. ۶،۹ میلیونه افغانۍ لگښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کېږي. یاده پروژه به په نږدې راتلونکې کې بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د سیمې اوسېدونکو د جلال‌اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي ښودله او په راتلونکې کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## ســاحات پارچه ۱۳ شــهر چاریکار توســط هیئت تخنیکی تثبیت زمین‌های امارتی بررسی گردید

هیئت تخنیکی تثبیت زمین‌های امارتی مطابق پلان کاری و به هدف بررسی و تثبیت حدود و موقعیت ساحات پارچه ۱۳ شــهر چاریکار، امروز از این ساحه بازدید میدانی به عمل آورد.

در ترکیب این هیئت شاروال شهر چاریکار، ریس زراعت و اراضی، ریس عدلیه، ریس شهرسازی و تیم تخنیکی شان حضور داشتند که در این بررسی اعضای هیئت با استفاده از اسناد پلان ها و نقشه‌های رسمی وضعیت موجود ساحه را ارزیابــی تخنیکی نمودند تا ملکیت‌های دولتی به گونه دقیق تثبیت و تعین گردد.

هدف اصلی از این روند، تطبیق عدالت، حفظ و حراست از ملکیت‌های عامه، جلوگیری از تجاوز به زمین‌های دولتی و زمینه‌ســازی برای تطبیق پلان‌های توسعه‌ای شهری می باشد.

کاپیسا ۴۱

**شــاروالی یکاولنگ ولایت بامیان امروز در ادامه برنامه های انکشافی خویش، کار اعمار سیل‌بر معیاری در جر آب‌شــور را به طول ۱۵۰ متر آغاز نمــود که این پروژه شــامل ســنگ‌کاری و گابیون‌کاری اساســی بوده و با هزینــه‌ی ۴۸۲،۲۰۰ افغانی از عواید داخلی شــاروالی تمویل می‌گردد.**



بامیان ۴۲

**ماشــین‌آلات و کارکنان شاروالی شــهر چاریکار حدود ۵۰۰ متر از کوچه‌ای واقع در ســاحه سه‌راهی هوفیان، در ناحیه پنجم شــهری را هموار کردند. این کوچه در فصل‌های بارانی برای عبور و مرور وســایط حمل و نقل مشکلات ایجاد می‌کرد.**



کاپیسا ۴۳

**جلسه اداری شاروالی میمنه به ریاست الحاج مفتی گل احمد مبشر، شــاروال میمنه با حضور مدیران اداری در تالار جلســات این اداره برگزار شــد و در مورد ایجاد و تأمین نظم و انســجام در کوچه بهمنیار و سایر مسائل شــهری بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصمیمات لازم اتخاذ گردید.**




فاریاب ۴۴

## د فراه ښاروال د اداري کارکونکو سره د ورځنيو چارو د چټکتيا په موخه ناسته ترسره کړه



فراه ۴۵

د فراه ښــاروال په مشرۍ د اداري مجلس نوبتي ناسته د اداري کارکوونکو سره ترسره شــوه. په دې ناســته کې د ورځنيو چارو په ښه توګه ترسره کېدو، پروژوي خدمتونو د څارنې، ښار پاکوالي، ښاري سمسورتيا او ښاري نظم په اړه خبرې وشوې.

ښاروال په ځانګړي ډول د باختر او معارف د پلونو د رغونې پر چټکتيا ټينګار وکړ او زياته يې کړه، چې کارونه يې بايد ګړندي شي ترڅو د ښار د اوسېدونکو ترانسپورتي ستونزې په لنډ وخت کې حل شي.

بل خوا، د تخنيکي او مسلکي چارو امر د روان مالي کال د پروژو د پيــل په اړه ډاډ ځرګند کړ او د بشــپړې امادګۍ ترځنګ يې د چارو د غوره ترسره کېدو ژمنه وکړه.

**نشست کمیته رسیدگی به شکایات تحت ریاست الحاج مفتی گل‌احمد مبشر، شاروال میمنه با حضور اعضای کمیته در دفتر مقام شاروالی تدویر یافت و در آن پنج مورد شکایت که از سوی شهروندان به صندوق‌های شکایات انداخته شده بود، مورد بررسی قرار گرفته و جهت رسیدگی به مراجع مربوطه ارجاع داده شد.**

فاریاب ۴۶

## خوســت ښــاروالۍ کې د ميخانيکي انســتيټيوټ لسګونه محصلينو ته عملي زده کړې پيل شوې



خوست ۴۷

د خوست ښاروالۍ د معلوماتي ټکنالوژۍ عمومي مدير ذبيــح الله لــه لوري د خوســت ولايــت د ميخانيکي انســتيټيوټ ۴۳ محصلينو ته د اې ټي په برخه کې يوه مياشتنۍ د عملي زده کړو دوره پيل شوه.

ياد محصلين په رسمي توګه خوست ښاروالۍ ته معرفي شوي دي او په ياده موده کې به محصلين په عملي توګه د نيټــورک جوړونــه، د امنيتي کمرو نصــب، امنيتي خونديتوب، ښېر سيستم، يادو سيسټمونو کې د ستونزو موندنــه او حل، په اداري چارو کــې د ځانګړو کوډونو جوړونه او د هغې اســتعمال او اړوندو نــورو برخو کې عملي زده کړې ترلاسه کړي.

## قره‌باغ ښاروالۍ د ښاري نظم عامه پوهاوي او صنفي تنظيم په موخه څو اړخيز فعاليتونه ترسره کړل

کابل ولايت قره‌باغ ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظيم مدير، د قصابانو له صنف سره د دوی د فعاليتونو د تنظيم او سمون په اړه خبرې وکړې. نومــوړي څرګنده کړه چې دا صنف، چې اوس مهال په بېلابېلو ســيمو کې غيرمنظم فعاليت کوي، بايد يو مناسب او معياري ځای ته انتقال شي تر څو د ښار د نظم او عامه خدمتونو کيفيت لوړ شي.

همدارنګه، د حکومتولۍ مديريت د ولســوالۍ په کچه د ماشومانو د مسؤنيت تر عنوان لاندې جوړه شوې غونډه کې ګډون وکړ او اړوند مســايل دګډونوالو لخوا شريک کړل شول.

پر دې سربېره، د قره‌باغ د "الر جامع مسجد" کې د لمانځه له ادا کولو وروســته د عامه ذهنيت جوړونې غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د خلکو پام د کثافاتو د کنټرول، د چاپېريال د ســاتنې او د ښاري نظم د مراعتولو پر اهميت راواړول شو.

قره باغ/کابل ۴۸